شهسوارسنګروال

۲۰۲۳/۰۳/۱۴

# د مصرتاريخي سفرنامه

## دويمه برخه

دموزيم په لومړني ستر دالان کې دپنځوستروفرعونيانوډېريني،ولې داسې ستري ستري مجسمې، دچا خبره لکه دناوکۍ غر چې توړل سوی وي ځاې پرځاې وې او په داسې ډول ځاې پر ځاې سوې وې،چې هرسيلانی ورته ګوته په خوله و .

ددې دهلېز ښي پلو ته زينه وه اوله دې لارې دويم پوړ ته وختم هلته هم يوشمېر لوې او وړې مجسمې وې،خو بياجوخت ښي لورته يوبل اوږد دالان غوځېدلی و،چې کله ورتاو سوم ومې لېدل،چې ګڼ سيلانيان له يوه تابوت نه راتاو دي اوهرڅوک کوښښ کاوي ،چې دليدلو لپاره ګنې ګونې نه ککره ورننا باسي ...

ماهم ځان ورساوه اوومې ليده چې دوه فرعونيان يوبل ته ديو متر په فاصلې په تابوتونوکې موميايي شوې،روغ رمټ ،چې ان دسر ويښتان يې هم امانت وواېښودل شوي ول .

لومړنی موميايي شوی فرعون« يويا » نومېده،چې په۱۴۰۰مخزيږدي کال يانې له اوس نه درې زره څلورسوه درويشت (۳۴۲۳) کاله دمخه تېر شوی دی، د۵۰او۶۰کالو ترمينځ ومړ،چې بيا موميا کړی شو
<https://emea01.safelinks.protection.outlook.com/?url=https%3A%2F%2Flh4.googleusercontent.com%2FmKphhHUYK5tLJi5e1Q030dsM9osQUAa1fxVwnebFwY46NkkkJ-A92tKBL00u-TvQ7RF9UzkKtwOGXNj9O3wNihcPXylMoYzs752wacgacdHuJOEt35N9iO9IdWCD7dxoTUe8R6Q1qleRL088peTI96c&data=05%7C01%7C%7C0d6ddac211344c0d904008db23488674%7C84df9e7fe9f640afb435aaaaaaaaaaaa%7C1%7C0%7C638142566632743677%7CUnknown%7CTWFpbGZsb3d8eyJWIjoiMC4wLjAwMDAiLCJQIjoiV2luMzIiLCJBTiI6Ik1haWwiLCJXVCI6Mn0%3D%7C3000%7C%7C%7C&sdata=CFvPFHuAwUhnRDRY43D43ecqabidNBe%2FKA9pATgMaaA%3D&reserved=0> .

کينې خواته دده ميرمن « ثويا »نومېده هغه هم په ورته بڼه موميايي شوې وه اوکوم ډبرليک چې ما ولوست دواړه په يوه عمرمړه شوی دي...!؟

مصريوافريقايي هېواد دی او کله چې موږ دافريقا د لرغوني تاريخ پاڼې اړوو،داسې ښېلګې موندلی شو،چې کله به يوواکمن ومړ، نومېړمن يې هم ورسره ژوندۍ ښخوله چې په هغه نړۍ کې هم دده په چوپړ کې وي.

ښايي د«يويا» او« ثويا » دمرګ داستان هم سره ورته وي او يا نه وي ،خوداچې په يوه عمراويومهال مړه شوي اوموميايي سوي دي داډول پېښې لږې پېښېږي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په څير و لولئ

ددالان کېن لورته یوبله ډبرینه مجسمه هم وه چي دی یي دمرگ رب النوعه باله او ۹۹۱ مخزیږدي کال چي تر اوسه پوري پري۳۰۱۴ کاله تېر شوی دی ترسترګو شوه ،چي دغه تن د« اوسیریس » په نوم نامتوو.

دي مجسمي ته په څو قد مي کي دوه نوري ډبریني مجسمي چي په ځانګړي هنري مهارت جوړي شوي وي، دیوه نوم « امین مهات » وه چي دریم فرعون یي باله اوده ته یي دنیل رود رب النوع

وایه او دژوند نبېته یي په مخزیږدي(۱۸۱۳ -۵۹ ۱۸م ز) پوري یقیني دی.

له دغه ډبریني مجسمي لس ګامه وړاندي دفرعونیانویولرغونی تابوت ترسترګو شو،چي له سپینوزرو جوړ و . تابوت ته څېرمه« دټوټا ن خا مون» ډبرینه مجسمه وه ،چي په ۱۳۲۷-۱۳۳۶مخزیږدي کال په شاو خوا کي تېر شوی دی

<https://emea01.safelinks.protection.outlook.com/?url=https%3A%2F%2Flh5.googleusercontent.com%2FVrg20KFJtMvlSJFQIae5sk8j8SeZQM2KTs3UeFBF3PFtwgPch1zZt9eDjhPt3eO7JgeMOTKZu4p4OZ_APjSCH_9xRbtXf5eBruaYFK1_CRH6SBy-63WQg5N-k-A9kEYeGTi_cUmTtTUVhTg6b8MGI-w&data=05%7C01%7C%7C0d6ddac211344c0d904008db23488674%7C84df9e7fe9f640afb435aaaaaaaaaaaa%7C1%7C0%7C638142566632743677%7CUnknown%7CTWFpbGZsb3d8eyJWIjoiMC4wLjAwMDAiLCJQIjoiV2luMzIiLCJBTiI6Ik1haWwiLCJXVCI6Mn0%3D%7C3000%7C%7C%7C&sdata=Lo0rHUtYCqIO%2F7DPXrABTgTeNUWX0E%2BRJ%2BHgZyllBEM%3D&reserved=0> .

د«سینووسریټ » په نوم د دریم فرعون مجسمه،چي په ډبرلیک کي دده عمر۱۸۷۸-۱۸۴۰مخزیږدي په ګوته شوي دي اوځاي ناست یي دده زوي « ها مپو » یاد شوی اودده په څنګ کي دیوه لوړ رتبه چارواکي مجسمه هم ځاي پر ځاي وه،چي « امین هوتېپ » نومېده اودده دعمر نېټه ۱۳۹۰-۱۳۵۰مخزیږدي ښودل شوي ده.

همدارازپه لسګونوفرعونیانومجسمي اوتابوتونه دمصرپه ملي موزیم کي شتون در لود،چي موږ،دویم« رامسس » (۱۲۷۹-۱۲۰۳ م ز) ،مېرنتاه ، سینوسېراټ ، اکستاس ، چي دده پلاریوناني اومور یي مصري وه . دپلارنوم یي هوریم هب و،چي په څلورمه مخزیږدي پیړی کي تېر شوی دی او یو مذهبي شخصیت و،دساري په توګه یادولی شو.

امون ، موټ ، خونسو،چي رب النوع یي د « مین » په نوم نامتوو،هم ددوی ډبریني مجسمي په دغه موزیم کي ځاي پر ځاي وي .

ددغو فرعونیا نو په لړ کي یو لرغونی فرعون « سا کارا »و،چي ۲۶۴۹ -۲۶۳۰مخزیږدي ترمینځ تېر شوی دی،چي له اوسه شاو خوا ۴۶۷۲ کاله تېرېږي ، دهغه وخت نامتو فرعون و.

په موزیم کي مي شاوخوا څلور ساعت تېر کړل، ښایي ترېوه بریده مي دفرعونیانویوځه تت اوځرګند اړخونه انځور کړي او روښانه کړي وي ،خو بیا هم په دې تړاویوی غوښني څېړني ته اړتیاده.

کوم څه چي ماته ډېر موهم و،هغه په موزیم کي د یوشمېرهېروغلیف انځورونو شتون وه،چي دلیکدود بېلا بېلي بڼې په ګوته کولې
<https://emea01.safelinks.protection.outlook.com/?url=https%3A%2F%2Flh6.googleusercontent.com%2FI5Jgf7hyZ1Mks8dA2Vw56upwE9yaxEV88jOsS2rTHTBR6Z-8XBAGgHuJ0Ti4GiNBl8ElhTVeVnJUGzvrvW0geZ6KHkaOVoRWvlrrEkBqK833PoJwizkixc9AVQQQLKPwcGXqUvJE0V4ZKImY4JZrXiw&data=05%7C01%7C%7C0d6ddac211344c0d904008db23488674%7C84df9e7fe9f640afb435aaaaaaaaaaaa%7C1%7C0%7C638142566632743677%7CUnknown%7CTWFpbGZsb3d8eyJWIjoiMC4wLjAwMDAiLCJQIjoiV2luMzIiLCJBTiI6Ik1haWwiLCJXVCI6Mn0%3D%7C30


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په څیر و لولئ

00%7C%7C%7C&sdata=MpWmTkxQehpf2cvn0sSwQZg491gxoqrBjK8ORTkjIo8%3D&reserved=0>
.

له موزيم نه داسي مهال راووتم چي نور نوپه پښو کي شيمه نه وه پاتي اولمرهم له زوره غور ځېدلی واوخپلي وړانګي يې ورورو ښېرته راغبرګولې اوغوښتل يې ځان دمه کړي او د غونډ ښيو ترشا پټ شي، چي زه ديوې ټکسي پر مټ هوټل ته راستون شوم.

دهمدې ښېتې په ماښام چي دمصر په وخت اوه ۷بجې وې، په يوې سترې بېړۍ کې دنيل رود غېږې ته ورننوتو، په داسي حال کې چي کښتۍ دنيل غېږه کې سرکونه جوړول اود سين شوبادې دمخ کاسه را تخنوله اوبېړۍ هم ورورو دسفرتنابونه رالندول ... چي دنيل ننداري ته تم او پښه نيولی شوم.

همدارنګه عربي موزيک هم ورورو غږېده او دغوړونوشپيلۍ را کړنګوله،چي بېړۍ خپل منزل ته ورسولواوبيا مو دماښام ډوډۍ هم په همغه کښتۍکې وخوړه ... ښوشېبې بېړۍ دنيل په هغه بله غاړه کې تم سوه اوبيا يې مخ راتاوکړ اوکښتۍ زموږ د سفررسۍ راکاړله.

داچي ويل کيږي نيل د مصرتحفه دی ، دارښتياده اوداځکه چي دعايد ډېره برخه يې په کرهڼې اوکرکېلي ولاړه ده.

يومهال نيل خپل رب النوع درلود،په دې مانا چي دلرغونومصريانو لپاره دلما نځني وړ و، اوس هم يوشمېرمصريان دغه دود پالي اوخپل ودونه دنيل غاړه کې دځانګړو دودونو له مخې سرته رسوي ،ولې داسلامي دود له مخې ، نه داچي تېرمذهبي رنګ اوخوندوپالي.

دشنبې ورځ د سهار ۸ بجې مخ په سکندريه وخوځېدم اوسکندريه هغه ښار دی، چي بنسټ يې دالکسا ندرسکندرله خوا ايښودل شوی و

<https://emea01.safelinks.protection.outlook.com/?url=https%3A%2F%2Flh3.googleusercontent.com%2Fgs2oVolxFuHaN9QWAgwrHB1w3lLQZyI0MwKrfTnjsPQA0hByRY-seI8V41aNpU5Xd8F6UxOHoj-MMCdGLuJ4IfrOve2Nw1GSxnIRFSFKIx_DpMrqi_s8Lk-KhSRIut874HhpD7klxp69bWPaRgx_30E&data=05%7C01%7C%7C0d6ddac211344c0d904008db23488674%7C84df9e7fe9f640afb435aaaaaaaaaaaa%7C1%7C0%7C638142566632743677%7CUnknown%7CTWFpbGZsb3d8eyJWIjoiMC4wLjAwMDAiLCJQIjoiV2luMzIiLCJBTiI6Ik1haWwiLCJXVCI6Mn0%3D%7C3000%7C%7C%7C&sdata=MalQ8xYFeFHjVdMVcl7iiy5lCdDl6HORQOZ%2F2HrB6ko%3D&reserved=0>
.

دايو تاريخي ښار دی،چي له انقرې نه ترهغه ښاره درې ساعته دموټر لاره ده اودا يوه ښېرازه سيمه ده اوتر ډېره بريده خلک يې په کرهڼه بوخت دي ، ولې بياهم کليواله بڼه يې دښاري ژوند په پرتله ډېره تته وه.

په لاره کې ځاې ځاې دخرما اونارنجو باغونه تر سترګوکېدل ،سره ددې،چي مصريوافريقايي هېواد دی، خو له اسيايي عربو سره په ډېرو کړو وړوکې ورته دی اواقليم يې هم دمديترانې له نورو هېوادونوسره نږدې دی.

سکندرپه ۳۳۲م زکال مصر ته له همدې لارې راننوت اوله دېنه شاو خوا څلور کاله وروسته

افغا نستان ته را ورسېد ، ولې په مصر کې دخپل عد ت له مخې دسکندريه ښاربنسټ په داسي مهال کېښود،چي په دغه سيمه کې څو وړو وړوکليو شتون درلود.

په دغه ښارکې ډېرلرغوني توکي ترسترګو شول،خوهغه څه چي ډېر موهم وهغه ديوه لوې کتابتون شتون و، چې بنسټ يې په ۲۸۸مخزيږدي کال ،له اوس نه۲۳۱۱کاله دمخه ايښودل شوی وو.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

هغه چاچي ددې کتابتون بنسټ ايښی و« ډيميتريس » نوميده،چې هغه مهال يې دکتابونو شمېر اووه سوه ۷۰۰توکو ته رسيده ، ولې اوس په دغه کتابتون کې دوه نيم ميلونه« ۲۵۰۰۰۰۰ » کتابونه موجود دي،چې دنړۍ دويم کتابتون ګڼلی کېږي ، ماڼۍ يې لس منزله ده،چې درې منزله يې ترځمکې لاندې او۷ پوړه له مځکې پاس دي.

په ۲۴۸مخزيږدي کال دغه کتاب خانه د« قيصر روم » له خوا وسوه ځول سوه،خودخلکو له خوا بېرته ورغول شوه ، خوپه ډېرې خواشينی چې په څلورمه ميلادي پېړۍ کې بيا داور دلمبو خوراک شوه.

ددې کتابتون سرليکونه هم لکه دنورولرغونو ځايونوپه څېرپه هېروغليف ليک دود کښل شويوو.

داچې سکندرددغه ښاربنسټ کيښود ومې ويل،چې څوکلي ودان ول اودماهيانودنيولوکارو با ر يې کاوو، ولې بيا هم دسکندرد دي خدمت په درناوي خلکو دی دمصررورستی « فرعون » وباله . اوس ددغه ښارد اوسېدونکو شمېر پنځه ميلونوته رسېږي ، چې بيا هم شمېر يې د قاهرې په پرتله څلور برابره لږ دی ، مانا داچې دمصردپلازمېنې قاهرې نفوس ۲۱ميلونو ته رسېږي.

سکندريه دغه سيمه کې يوه ښيښه يې ماڼۍ هم ودانه کړې وه ،چې په څلورمه پېړۍ کې دزلزلې له بابته له مينځه لاړه.

دهمدې لرغوناثاروپه لړکي ددويمي مخزيږدي(۲) پېړۍ يوه بله ستره ماڼۍ مې هم ترسترګوشوه ،چې روميانو اباده کړې وه ، ولې ترډېرې مودې له لرغونپوهانو ورکه وه اوهغه مهال مومندل سوه چې يوخرياني مرکب ، چې په يوه ځاه کې وولېداوخلکو يې درايستلوهغه وکړه ، وې لېده چې دلته يوه سلطنتي ماڼۍ شتون لري.

دلرغونپوهانوله کندونوروسته معلومه شوه چې دغې ماڼۍ درې پوړه درلودل،چې هم دناستې ځايونه پکې ول او هم به يې سلطنتي غرومړي دلته ښخول.

ددغې ماڼۍ په جوړولوکې دوخت دانجنرانو له نبنو نښانومعلومېږي، ښا يې چې دغه ګډوله ماڼۍ دانځورونواومجسموله مخې ديونانياو،روميانواومصريانوله خواجوړه شوې اورغاول سوې وې.

کله چې له دې ماڼۍ را ووتوپه څوکيلو متري کې مويوه بل لرغونی ځاې تر سترګو سو،چې يو وخت ديونا نيا نوتياتر وواوپه يوې پر مختللې بڼې جوړ شوی واو دېته څېرمه دروميانودواک او ځواک په مهال هم دتياترپوهنتون جوړشوی و،چې ان درسي خونې درلودې اوهم دليلې سستم.

دسکندرې دښار ښلا بېلې لرغونې برخې مې ولېدې اوشاو خوا ترپنځو( ۵) بجو پورې هملته وم اوبيا له سکندرې وروسته قاهرې ته راغبرګ سوم.

ديکشنبې ورځ دسهار اته(۸) بجې يوې بلې تاريخي اوکلتوري سيمې ته لاړم،چې هلته دوخت ډېرې موهمې پېښې رامينځته سوې دي،چې موږ هغه دفا طيميون (۹۷۲زيږدي ) ، دحضرت امام حسين دمرګ خونړۍ پېښه اودهغه بې تنې هديره ،( چې يوازې ککرۍ يې پکې ښخه ده ،چې دامام حسين خوربې بي زينب له کربلا نه تر مصره دده بې تنې سر راورسوه ) ، دالاظهرپوهنتون اواداري نه ليد نه ،چې دوخت يوسياسي اومذهبي مورچل  دساري په توګه يادولی.

لومړی هغه جومات ته لاړو،چې په ۹۷۲ ميلادي کال دفاطيمينو له خوا له نن څخه ۱۰۵۱کاله دمخه اباد شوی واودپام وړ خبره خو داوه، چې دهغه وخت انجيرانوله خوا په ډېر مهارت جوړشوی و،خوستني په کې پربمانه وې، ولې اوس په کې يوه لويه مدرسه ده .

دې جومات ته مخامخ يوبل سترجومات ته ورغلو،چې دامام حسين پنوم نامتو و، خو ددې جومات په پرتله معاصرواودا ځکه چې دجمال ناصرله خوا ودان شويدی.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په خير و لولئ

دېته يي دامام حسين جومات څکه وايې ، چي دده بي تني سر په کي ښخ واوددغي هديرې  په دوه متريکي موي مبارک و، چي په ورته بنه جوړ وو.

حسين بن علي دفاطمي دويم زوي و،دڅلورم اوپنځم لېږدي ترمينځ په مدينه کي وز يږيد ا و دده مشر وررور حسن،چي لومړنی نوم يي حرب چي وروسته داسلام ستر پيغمبر ورته «حسن »ووېل ،بيا دواړه وروڼه په«حسينينو » نامتو سول.

هغه وخت چي يزيد دسلطنت په تخت کېناست حضرت حسين مخالفت وکړ  اودعراق خلکو ده ته بلنه ورکړه چي عراق ته ورشي.

حضرت حسين چي کربلا ته ورسېد دعراق والي عبيد الله بن زياد له وسله والو سره مخ شو . دمحرم دمياشتي په لسمه دهجري ۶۱ کال ،چي دميلادي له ۶۸۰ سره برابره وه عمروبن سعد ابي وقاص دڅلورزره لښکر سره دهغه په ملګرو خونړی بريد وکړ،چي په پاي کي حضرت حسين په ډېري بېرحمی وواژه اوويل کېږي چي دده پري شوی سرمصرته راوړل شو.

مصر خلک ده ته « امام » کلمهنه کاروي او« الحسين » يي بولي .يوازي شيعه مسلمانان د

»۱۲«امامانوخبره کوي،چي له « اهل سنت» سره اختلاف لري.

داسي ډېراختلافونه په بيلا بېلومذهبي فرقوکي موجود دي،چي موږ په دغه ترڅ کې « سلفيان » او

<https://emea01.safelinks.protection.outlook.com/?url=https%3A%2F%2Flh3.googleusercontent.com%2FS32GbhczrloAmlzDq3hXl8BCZ2aQWfGq2C-FcxmnNEVUVRhZRBIKA19U6WaDrXvBr6Oawx0EeeksYGnWTivsZiOzy5kzqpFffQb1KMD3AO-V1sqvgEWzfMu3IDCAkpNjCdkanWcRrp6IdbQdUXyn4y8&data=05%7C01%7C%7C0d6ddac211344c0d904008db23488674%7C84df9e7fe9f640afb435aaaaaaaaaaaa%7C1%7C0%7C638142566633056150%7CUnknown%7CTWFpbGZsb3d8eyJWIjoiMC4wLjAwMDAiLCJQIjoiV2luMzIiLCJBTiI6Ik1haWwiLCJXVCI6Mn0%3D%7C3000%7C%7C%7C&sdata=GmurExn75eUWEB3IYf3Poewwp8XEmixP1K4524YEMHw%3D&reserved=0> « وهابيا ن » يادولی شو.

عبد الوهاب ، هغه څوک و،چي ترډېره بريده يي په احد يثوډېرټينګارکاوواوپلويان يي حديث محوره واوددوی سيلان «سلفيان » بيا د سلف په نوم دقرانکريم احکاموته مراجعه کوي اوحال داچي «خلفايي راشدين » دقرانکريم اواحديثوپه رڼا کي داسلامي ارزښتونو پخلی کوي اوحديث دقرانکريم دایاتونوتفسيربولي.

خوداچي دمصر مسلمانان ټول سونيان دي ،دشيعه مسلمانيانو عقايدوته ډېر ژمن نه دي ، نوځکه خوامام حسين ته « الحسين » وايي !؟ دده له جومات اوهديرې نه شاوخوا پنځه اولس کيلو متره  لرې د« بي بي زينب » اودېته څېرمه دبي بي سکيني قبرونو موقيعت درلود .

وريسي دصلا ح الدين جومات ته لاړواوپه ډېر شانو شوکت اباد شوی دی ،چي ګنشمېر سيلا نيان يي ليدلوته راغلي وو.

په همدې ورځ چي د سفرورستی ورځ مي وه يودبل پسې مي زر زردصلاح الدين ايوبي جومات اودهغه مهال دانجينرانوورتيا مي وليده ورته حيران شوم ... بيامي دقاهرې پوهنتون وليده ، چي پيغلېو اوځوانانو يکي ليک ولوستکا وو.

موهمه خبره ځو داوه ، چي له هرچاسره به مخ شو، نوهمدا به يي ويل ، دوعا کوئ چي زموږ  هېواد چېنتن تعالی له


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

هرې بلا نه وساتي اوان داچې دقاهرې له پوهنتون نه راووتم اوبیا په ټکسي کې سفیر  هوټل ته راغلم اوموټر وان ته مې ووېل ،چې زما سفر پایته ورسېد اوده په ډېرې عاجزۍ ووېل، زموږ هېوادته دوعا وکړۍ،چې تل ابادوي اوخلک یې سوکاله اوخوشحاله ژوند ولري

ددوشنبې ورځ  دمارچ ۶مه دورځې ۱۱بجې له هّوټل نه راووتم اود قاهرې هوایي ډګر ته

راورسېد م  اوبیا د لند ن په لور را وخوځېد م.

تربیا ، درنو دوستانو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ